Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

دویم کال - ۳۱مه ګڼه | پرله‌پسې ۴۵مه ګڼه

(خبرپاڼه)

نېټه: ۱۴۰۴/۸/۲۲



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- چابهار؛ د افغانستان د سوداګرۍ له پاره بدیله لار

۲- پنجشیر کې د پارنده برېښنا بند ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي

۳- د غزني د زرکشان د معدن د قرارداد تړون لاسلیکېدل

# چابهار؛ د افغانستان د سوداګرۍ له پاره بدیله لار



د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسوولینو ویلي، هڅه کوي چې د ایران په چابهار بندر کې افغان سوداګرو ته اړینې اسانتیاوې برابرې کړي، څکه له دې لارې د توکو لېږد په کم لګښت او لنډ وخت کې ترسره کېږي.
افغانستان بحر ته مستقیمه لاره نه لري او له ګاونډیو پرته له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ له پاره د نورو هېوادونو له بحري بندرونو استفاده کوي. د پاکستان کراچۍ بندر هغه لاره ده چې افغان سوداګر تر ډېره د ترانزیټ په موخه استفاده کوي، خو وخت نا وخت د پاکستان له لوري د لارو تړلو او ستونزو د رامنځته کولو له امله افغان سوداګرو ته درانه زیانونه رسېږي.
خو چابهار د کراچۍ او پاکستان د نورو لارو ښه بدیل دی. د امارتي مسوولینو په وینا، چابهار بندر کولی شي چې له هند او نورو هېوادونو سره د افغانستان د سوداګرۍ له پاره پر یوې باوري لارې بدل شي، څکه دا بندر د فارس خلیج ازادو اوبو ته د افغانستان مستقیم لاسرسی برابروي.
داسې ښکاري چې وروستیو کې، د پاکستان له لوري د لارو بندولو او ستونزو د ایجاد له امله، ډېرو افغان سوداګرو چابهار بندر ته مخه کړې، څکه د پاکستان د لارو په پرتله یې ستونزې کمې او د لارو تړلو امکانات یې لږ دي.
مسوولینو ویلي، تېرکال د چابهار بندر له لارې د دوه اعشاریه ۶۶۱ میلیارد ډالرو په ارزښت راکړه ورکړه شوې ده. د چابهار بندر د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیټ له پاره د پاکستان د لارو په پرتله یوه ښه او بدیله لاره ده، چې ازادو اوبو ته نږدې ده.
د چابهار بندر له لارې د افغانستان د سوداګرۍ زیاتېدل ښیي چې افغانستان د سوداګرۍ له پاره پر یوه هېواد متکي نه دی، بلکې د خپلو صادراتو او وارداتو له پاره بدیلې لارې لري او کولی شي چې خپلې سوداګریزې اړیکې روانې وساتي.

# پنجشیر کې د پارنده برېښنا بند ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي



د پنجشیر مسوولینو ویلي، په دې ولایت کې د پارنده برېښنا بند چارې بشپړې شوې او ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. مسوولینو ویلي، دا لومړی ځل دی چې د پنجشیر خلک به له خپلو اوبو څخه برېښنا وکاروي.
په دې پروژه ۷٫۶ میلیون ډالر لګښت شوی، چې څلور میګاواټه برېښنا تولیدوي.
د افغانستان اسلامي امارت د هېواد له اوبو څخه د سالمې استفادې په موخه د اوبو مدیریت په لومړیتوب کې نیولی دی. اسلامي امارت غواړي چې د خپلو خلکو د هوساینې او صنعتي پرمختګونو له پاره

خپلې اوبه مدیریت کړي.
له بده مرغه د لسیزو اشغال او جګړو له امله د هېواد اوبه په سم ډول مدیریت نه شوې او د برېښنا د تولید او د کرنې د پراختیا له پاره له خپلو اوبو سمه استفاده ونه شوه. همدا لامل دی چې د برېښنا د کمښت له امله صنعتي وده ټکنی ده او ډېرې شاړې مځکې ابادې نه شوې، خو اسلامي امارت غواړي چې وضعیت بدل کړي. په همدې موخه یې په هېواد کې د اوبو لویې او کوچنۍ پروژې پیل کړې دي، چې د کاري فرصتونو د ایجاد ترڅنګ د هېواد د اقتصادي ودې لامل ګرځي.

## د غزني د زرکشان د معدن د قرارداد تړون لاسلیکېدل

د کانونو او پټرولیم وزارت په وینا، د غزني د زرکشانو د پولي میتال معدن تړون یې له یو خصوصي شرکت سره لاسلیک کړی دی. دغه معدن چې ۲۴۰ کیلومتره مربع مساحت لري، خصوصي شرکت به یې اکتشاف، استخراج او پروسس کوي.
افغانستان تر ځمکې لاندې ډېره شتمني لري، چې مناسبه ګټه ترې اخیستل شوې نه ده. د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته د هېواد د اقتصادي ودې او په ځانګړي ډول د کاري فرصتونو د ایجاد په موخه د کانونو سکټور ته توجه کړې.
په تېرو څلورو کلونو کې د شفافیت او مسلکیتوب په پام کې نیولو سره د لسګونو کانونو او معدنونو قراردادونه له کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره لاسلیک شوي دي. د کانونو استخراج او پروسس له یوه لوري اقتصادي ثبات باوري کړی او له بل لوري یې ګڼو هېوادوالو ته کاري فرصتونه ایجاد کړي دي.
اسلامي امارت په ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو غږ کړی چې افغانستان کې پانګونه وکړي او په افغانستان کې د پانګونې له شته فرصتونو ګټه واخلي. اسلامي امارت د ټولو پانګوالو ملاتړ کوي او اسانتیاوې یې ورته برابرې کړې دي.

